مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اړينزی
۲۰۲۳/۰۸/۱۶

# نړيوالي ټولنې

# ۷۳ برخه

سيمه ييزه ټولنې
اروپا
**پنځم څپرکی**
**سيمه ييزه ټولنې**

**اروپايي ټولنې**

## 4- اروپايي ټولنهEuropean Union(EU)

EU يوه اقتصادي او سياسي ټولنه (اتحاديه) ده چې ۲۷ غړي لري. هسې خو د اروپا د يووالي او يوې اروپا فکر ډېر پخوانی دی او ځينې مورخين په دې اند دي چې ان د روم ستروواکۍ په وخت کې د اروپا د يووالي او همغږۍ فکر و او د (رن) کنوانسيون - ۱۸۰۵ او د سويټزرلند – جرمني کنوانسيون ۱۸۱۵ يې غوره بېلګې بولي. نامتو ليکوال ويکتور هوګو، شمالي امريکا ته په کتو، د اروپايي دولتونو په همغږي کولو کې ټېنګار کړی و. د ټولنو د تاريخ په ارزونه کې څرګنده ده چې د ۱۹ پېړۍ په پيل کې د اروپا د سياسيو ډلو لومړنۍ ګامونه پورته شول چې د فکري، سياسي، اقتصادي او ټولنيزه بنسټونو د نشتوالي له امله ډېر بريالي نه وو؛ خو په ټوله نولسمه پېړۍ او د ۲۰ پېړۍ په لومړنيو کلونو کې، پوهانو د اروپا د يووالي ننګه کوله او د مثال په توګه د ځينو اروپايي هېوادونو ترمنځ، د سوداګريزې راکړې ورکړې څو تړونونه لاسليک شول. د مثال په توګه په کال ۱۸۶۰ کې د برتانيا او فرانسې تړون.
له لومړۍ نړيوالې جګړې وروسته هم داسې تړونونه، د اقتصادي ټولنو په چوکاټ کې لاسليک شول، لکه د ګمرکي چارو د همغږۍ له پاره د بلجيم – لوګزامبورګ اقتصادي ټولنه (۱۹۲۱). وروسته هالنډ هم د دې ګمکۍ ټولنې غړيتوب تر لاسه کړ او په ۱۹۴۴ کې بنيلوکس ونومول شوه.
په کال ۱۹۲۹ کې د فرانسې د بهرنيو چارو وزير آريستيد بريان، د ولسونو ټولنې په کلنۍ غونډه کې، د اروپايي دولتونو د يو فدراسيون د جوړېدو وړانديز وکړ چې د ملي حاکميتونو د فکر د بر لاسي او د برتانيا او د ولسونو ټولنې تر منځ د مخالفت په توسن ونه منل شو. د ولسونو ټولنې په هغه وخت کې، نه غوښتل چې په اروپا کې دې داسې يوه ځواکمنه ټولنه جوړه شي او هغه يې خپله سياله بلله. په کال ۱۹۳۳ کې په جرمني کې د نازيانو د ملي سوسياليست ګوند بريالیتوب او د آريستيد بريان مړينې، د اروپا د يووالي خبره د څه مودې له پاره پای ته ورسوله.
له دوهمې نړيوالې جګړې څخه مخکې په اروپا کې دا درې دفاعي ټولنې جوړې شوې وې:

- د رومانيا، چکوسلواکيا او يوګوسلاويا ټولنه چې د بهرنيو چارو درې وزيران يې په مشرتابه کې وو،
- د رومانيا، يوګوسلاويا، ترکيې او يونان ترمنځ د بالکان ټولنه – ۱۹۳۴،
- د لتوانيا، لاتويا او استونيا تر منځ بالتيک ټولنه.

دا ټولنې د کال ۱۹۳۸ او راوروسته پېښو له امله له منځه لاړې. له دويمې نړيوالې جګړې وروسته، په اروپايي دولتونو کې د سياسيو ووالي او اقتصادي همغږي له پاره، بېلابېلې سياسي ډلې جوړې او غړونه پياوړي شول. اروپايانو غوښتل چې د امريکا متحده ايالاتو او شوروي اتحاد ځواکونو په مقابل کې، د خپل شتون غم وخوري. لوی – لوی اروپايي ځواکونه لکه ايتاليا، جرمني، فرانسه او برتانيا له امريکا او شوروي څخه وروسته پاتې شوي وو؛ ځکه ټولو د يو ډول يووالي اړتيا احساسوله. د امريکا مارشال پلان، اروپايي هېوادونه ډېر اقتصادي نژدېوالي ته وهڅول.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د شوروي اتحاد په مشرۍ سوسیالیستي خوځښتونو او د اروپایي هېوادونو بیسارو ورانیو، وزګارتیا، بېوزلتیا او تربګنیو، د یووالي پلویانو پیاوړي کول؛ ځکه په نظامي برخه کې د شمالي اتلانتیک تړون یا NATO او په اقتصادي او سیاسي برخو کې، د اقتصادي همکاریو او لړ وروسته د اروپا شورى جوړ شول.
په کال ۱۹۴۵ کې د سویډن، فنلنډ او ناروې په نوښت، د سکاندیناویا ټولنه جوړه شوه چې په خپلو منځونو کې یې د کارګرانو تګ راتګ آزاد کړ.
په ۱۹۴۷ کې د برتانیا لومړي وزیر چرچیل، جرمني او فرانسه د اروپا یووالي ته وهڅول او ټول اروپایي هېوادونه یې ګډ کار او مرستو ته راوبلل.
په کال ۱۹۴۸ کی د لاهه (هالند) غیردولتی کنفرانس، د اروپا شورى وزېرولـه چې د اروپا کنګره نومېده او اساسنامه یې یو کال وروسته په لندن کې تصویب شوه. د فدرالیسم پلویان برلاسی شول او د اروپا د یووالي لاره اواره شوه. له دې وروسته هم د اروپایي دولتونو ترمنځ د یووالي او متقابله مرستو وړاندیزونه کېدل. په کال ۱۹۵۰ کې د بشري حقونو د کنوانسیون او د بشري آزادي ګانو طرحي او په سیاسي، پوځي او اقتصادي برخو کې د ګډ کار هڅول خبرو ته وړاندې شول چې د اروپا د سکرو او پولادو ټولنې پیلامه بلل کېږي (پاریس ۱۹۵۲).
د اروپا لویه وچه د نژادي – فرهنګي جوړښت له مخې، د نورو لویو وچو په پرتله ډېره متجانسه ده، له همدې امله د همغړیتوب لومړنۍ نښې هم همدلته لیدل شوي دي. د شیومن پلان Schumann Plan له مخې د اروپایي هېوادونو ترمنځ، خبرې پیل شوې.
د کال ۱۹۵۵ په جون کې د بنیلوکس (هالند، بلجیم او لوکزامبورګ) هېوادونو مشرانو، د Messina (سیسلی – ایتالیا) په غونډه کې، یوځلي بیا د اروپا د یووالي خبره وړاندې کړه. دې وړاندیز د اروپا د ډېرو سکرو او پولادو ټولنې فعالېدو (روم – د ۱۹۵۷ د مارچ ۲۵) او د اروپا اقتصادي ټولنې او اروپا د اتومي انرژي ټولنې جوړېدو ته لار پرانیسته.
د اتومي انرژي ټولنه The European Atomic Energy Treaty (EURATOM) مخکې د غړو هېوادونو تر منځ، د معلوماتو د راکړې ورکړې او د اتومي انرژي او رادیو اکتیف صنایعو په برخه کې د آسانتیاوو د برابرولو له پاره جوړه شوه. په کال ۱۹۵۷ کې د روم تړون لاسلیک او د اروپا ګډه اقتصادي ټولنه The European Economic Community Treaty (EEC)د پاسنیو دریګونو ټولنو د ګډ ارګان په توګه په پام کې ونیول شوه.
د روم تړون د لاسلیک په وخت کې ۶ څپرکي، ۲۴۸ مادې، ۳۰ ضمیمې او ۳۰ پروتوکولونه درلودل. په ۱۹۷۳ – ۱۹۸۱ او ۱۹۸۶ کلونو کې د لویدیځې اروپا ځینې نور هېوادونه هم له EEC سره یوځای شول.
EECد کال ۱۹۸۳ په سپتمبر کې، د اروپایي ټولنې (اتحادیه) د ژمنلیک لومړنی طرح تصویب کړه چې وروسته د اروپایي ټولنې په اساسي قانون بدلېده. په ۱۹۸۶ کې د واحدې اروپا قانون تصویب او د ۱۹۸۷ د جنوري په لومړۍ اجرایي شو.
د کال ۱۹۹۲ د فبروري په دوهمه په ماستریخت (هالند) کې، د څو اروپایي هېوادونو په ګډون، د اروپایي ټولنې تړون Treaty of European Union لاسلیک شو چې درې ستنې (ستون) یې درلودې.
الف – د اروپا د پرله پسې اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له پاره، تر کال ۱۹۹۹ پورې د یوې اقتصادي او پولي اتحادیې یا ټولنې جوړول چې ګډ مرکزي بانک او ګډ پولي واحد ولري،
ب– د اروپایي ټولنې د یووالي او ښه پیوستون له پاره، ګډ بهرنۍ او امنیتي سیاست او په ملي پولو کې د کالیو، خدماتو، پانګې او کارګرانو د آزاد تګ راتګ له پاره حقوقي آسانتیاوې،
ج– د نشه یي توکو، ترهګرو او جنایت کوونکو په فعالیت ګډ څار.
غړیتوب: په کال ۱۹۵۷ کې EEC د ۶ هېوادونو په غړیتوب جوړه شوه: بلجیم، فرانسه، فدرالي جرمني، ایتالیا، لوکزامبورګ او هالند. په ۱۹۷۳ کې دنمارک، ایرلنډ او برتانیا غړیتوب واخست. یونان په ۱۹۸۱ او اسپانیا او پرتګال په ۱۹۸۶ کې دا ویاړونه ترلاسه کړل. ختیځه جرمني په کال ۱۹۹۰ کې له لویدیځې جرمني سره تر پیوستون وروسته، د EEC عملي غړی شوه. استریا، سویډن، ناروی او فنلنډ د کال ۱۹۹۴ کې د غړیتوب غوښتنه وکړه. د ملي تصاویبو په وخت کې د ناروې ملی شورى دا غړیتوب ونه مانه؛ خو نور درى نور هیوادونه غړي شول. په کال ۲۰۰۴ کې ۱۰ نور نوي غړي خپلواکه هېوادونو غړیتوب ترلاسه کړ او ترکیه، کروشیا او شمالي مقدونیا لاهم د غړیتوب د اخستلو انتظار باسي.[1]
د کال ۱۹۹۸ د جنوري په څلورمه، د اروپا ګډ پولي واحد Euro رسمي شو چې د فدرالي اروپا په لور یو اساسي ګام بلل کېږي. دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې د اروپا مالي یووالي،یوازې یو اقتصادي حرکت نه و؛ بلکه د اروپا د لویې وچې د سیاسي پیوستون او همغږي لار پرانستل شوه.[2]
اهداف: د روم تړون Treaty of Rome د دویمې مادې له مخې د اروپایي ټولنې اهداف دا دي:

- د ګډ بازار رامنځ ته کول،
- د سوداګرۍ په برخه کې د یوبېګړې ټګلارې درلودل،
- د غړو هېوادونو تر منځ ازاد تګ راتګ،
- د کرنې په برخه کې د یوبېګ ډې کرنلارې ټاکل،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- د لېږد رالېږد په برخه کې د يوې ګډې کړنلارې لرل،
- د ګډ بازار د پرمختګ له پاره، د غړو هېوادونو د قوانينو همغږي کول،
- د کارګرانو د ژوند د ښه کولو له پاره، د اروپا د پانګوني مرستندويه صندوق جوړول،
- د ټولنې د اقتصادي ودې له پاره، د پانګوني د يو اروپايي بانک جوړول،
- د اقتصادي کړنلارو همغږي کول او په غړو هېوادونو کې د تادياتي بيلانس انډول،
- په بازار کې د سالمې سيالۍ د تضمين له پاره، د يو سيستم جوړول.

په کال ۱۹۹۵ کې اروپايي ټولنې ته د استريا، فنلند او سويډن په راتګ سره، د ټولو غړو تر منځ د شنګن (Schengen) تړون لاسليک شو.

د غړو هېوادونو تر منځ په ازاد تګ راتګ هوکړه او ژمنه وشوه چې ټولې پولې په پرته له کوم خنډ څخه، د خلکو په مخ پرانستې وي. شنګن په لوکزامبورګ کېږو وړوکی ښار دی. د اروپايي ټولنې کومه غونډه چې په دېښار کې وشوه، پرېکړه وکړه چې خپلمنځي پولې به له منځه وړي او خلک به بې ويزې يو د بل هېواد ته سفر کوي. د اروپايي ټولنې يوازې دوه هېوادونو، برتانيا او ايرلند، شنګن تړون نه دی لاسليک کړی او د تګ راتګ آسانتيا نه منې. د اروپايي ټولنې نور ټول غړي هېوادونه، شنګن مقررات منې.

اروپايي ټولنې په کال ۱۹۹۷ کې، د امستردام تړون له مخې لاندې موضوعات په خپلو لومړيتوبونو کې راوستل:

- د کار او اتباعو حقوق بايد د ټولنې د کار په سر کې راشي،
- د پانګوني، توکو، خدماتو او تګ راتګ په برخه کې، د خلاصو پولو وروستي خنډونه له منځه تللي، اوس بايد د امنيت ټينګښت ته ډېره پاملرنه وشي،
- اروپا بايد په نړيوالو مسايلو کې ځان ډېر دخيل کړي،
- نويو پرمختګونو ته په کتو، د ټولنې جوړښت بايد اغېزمن او سم شي.

په کال ۱۹۹۸ کې د EU سرمشريزې په لاکن (بلجيم) او په ۱۹۹۹ کې، په هلسنکي (فنلند) کې وشوې چې د ټولنې په پراختيايي کار پيل کړ او له ټولنې سره د ۱۲ نويو غړو د يوځای کېدو په اړه خبرې وشوې.

له پاسنيو ناستو وروسته او د ماستريخت تړون د ټاکلي مهالوېش له مخې، په کال ۱۹۹۹ کې پولي او اقتصادي ټولنه بشپړه شوه، Euroد اروپا پولي واحد وګرځېده او د ۲۰۰۲ په جنوری کې، په ډېرو غړو هېوادونو کې چلند ته وړاندې شوه.[3]

ايروزون Eurozone هغه جغرافيايي سيمې ته ويل کېږي چې ايرو پکې چلېږي. د اروپا مرکزي بانک ECB په فرانکفورت کې دی.[4]

د امستردام تړون پاتې موضوعات په کال ۲۰۰۰ کې د نايس Nice په غونډه کې وڅېړل شول. د دې غونډې هدف د نويو غړو له پاره د ټولنې جوړښتي اصلاحات وو.

د نايس غونډې مهم موضوعات دا وو:

- د نويو موضوعاتو د منلو يا نه منلو په وخت کې، د ټولنې د رايي اچونې په ډول کې بدلون،
- د اروپا پارلمان د غړو په شمېر کېډېروالی،
- د کمېشنرانو په شمېر کې بدلون او د اروپايي کمېسيون د مشر د واک ډېرول.

د کال ۲۰۰۱ په دسمبر کې د اروپايي ټولنې مشرانو، د اروپا د اساسي قانون اسامبله جوړه کړه چې په کال ۲۰۰۲ کې يې د فرانسې د پخواني ولسمشر والري ژېسکاردستن په مشرۍ کار پيل کړ.

د اروپا اساسي قانون په کال ۲۰۰۴ کې د ۲۵ غړو هېوادونو د مشرانو له خوا لاسليک شو. د فرانسې او هالند خلکو دې سند ته منفي رايه ورکړه؛ ځکه نو ټولنه له يوډول سياسي بحران سره مخامخ شوه او د اروپا اساسي قانون وځنډيد.[5]

په کال ۲۰۰۷ کې جرمني، چې د ټولنې مشري په غاړه درلوده، د ټولنېرنګېدو د مخنيوي او د روان بحران د پای ته رسولو له پاره، ډېرې هڅې وکړې. په پايله کې په دسمبر کې د پرتګال د مشرتابه په وخت کې، د ۲۷ غړو هېوادونو له خوا د (لزبن تړون) لاسليک شو چې د اروپا د اساسي قانون په مسوده کې يې لاندې بدلونونه په پام کې ونيول.

- د اروپا واحد بيرغ او ملي سرود رد شو،
- د ملي دولتونو د حاکميت او دريځونو په لوړولو ټينګار وشو او حساسيت پاروونکي خبرې ويستل شوې،
- د اروپايي ټولنې او ملي پارلمانونو د واک په ډېرولو ټينګار وشو،
- په سياسي مسايلو کې د کوچنيو هېوادونو ونډه پياوړې شوه،
- د اروپا عامه افکارو ته پاملرنه وشوه او د ټولنې په مهمو پرېکړو کې، د هغوی د نظر اخيستل اړين وګڼل شول.[6]

د EU په هکله په لنډه ويل کېدای شي چې بنسټيز هدف يې د خلکوPeople، توکوGoods ، خدماتو Services او پيسو Money آزاد لېږد رالېږد دی. دې ټولنې نه يوازې دا چې هېوادونه په سياسي لحاظ سره نژدې کړل؛ بلکه دوی ته يې د اقتصادي ودې او پرمختګ لاره هم اواره کړه.[7]

جوړښت: اروپايي ټولنه د هغه ارګانونو له خوا رهبري کېږي چې د پخوانيو تړونونو له مخې جوړ شوي دي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

- اروپایی شوری European Counil،
- د وزیرانو شوری،
- اروپايي کمېسیون،
- اروپايي پارلمان،
- اروپايي محکمه،
- د محکمې څانګړې څانګه او د اروپايي ټولنو استیناف محکمه،
- مشورتي څانګې.

---

[1]  سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۵۲ – ۲۵۳
[2]  سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر  محمد اکبر زاهد، ص ۲۵۲
[3] اروپایی ټولنه – احمد شاه اعظمی -  تاند ویب پاڼه
[4] اروپایی ټولنه – احمد شاه اعظمی -  تاند ویب پاڼه
[5] نړیوال سازمانونه ، محمد نظیم سمون، ص ۲۰۴
[6] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۰۵
[7] اروپایی ټولنه – احمد شاه اعظمی -  تاند ویب پاڼه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ